له جنابت څخه د غسل طريقه

له أم المؤمنين ميمونې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مې د غسل لپاره اوبه کېښودې، نو په يوې تکې سره مې پټ کړ، هغه په خپلو لاسونو اوبه راتوې کړې، دواړه لاسونه يې ووينځل، بيا يې په ښي لاس سره په چپ لاس اوبه واچولې نو خپل عورت يې ومينځه، بيا يې لاس پر ځمکه راښکود او ويې مړه، بيا يې ومينځه، نو خولې او پوزې ته يې اوبه واچولې او مخ او دواړه مټې يې ومينځلې، بيا يې په سر اوبه واړولې او پر نور ځان يې تېرې کړې، بيا څنډې ته شو، نو دواړه پښې يې ومينځلې، بيا مې يوه تکه ورکړه خو هغه وا نه خسته او روان شو پداسې حال کې چې لاسونه يې څنډل.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

أم المؤمنين ميمونه رضی الله عنها مور ته له جنابت څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د غسل طريقه بيان کړه چې هغې ورته د غسل لپاره اوبه کېښودې، او په يوې تکې سره يې پټ کړ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم لاندې کارونه تر سره کړل. لومړی: مخکې لدې چې لاسونه په لوښي کې ښکته کړي په دواړو لاسونو يې اوبه راواړولې او ويې مينځل. دويم: په ښي لاس سره يې په چپ لاس اوبه واچولې او خپله شرمګاه يې ومينځله. تر څو يې له هر ډول ناپاکۍ پاکه کړي چې د جنابت له امله ورپورې نښتې وه. دريم: لاس يې په ځمکه ومړه، بيا يې ومينځه تر څو ترې ناپاکي لاړه شي. څلورم: مضمضه يې وکړه؛ خولې ته يې اوبه واچولې بيا يې وخوځولې، په خوله کې يې تاوې راتاوې کړې او بيا يې توی کړې، او استنشاق يې داسې وکړ چې پوزې ته يې اوبه کش کړې، بيا يې ښرته سوڼ کړې تر څو پاکه شي. پنځم: مخ او دواړه مټې يې ومينځلې. شپږم: په سر يې اوبه واړولې. اووم: په پاتې بدن يې اوبه واړولې. اتم: له خپل ځای نه بل ځای ته شو او په بل ځای کې يې پښې ومينځلې، ځکه چې مخکې يې نه وې وينځلې. بيا يې ورته يوه تکه راوړه چې ځان پرې وچ کړي، خو هغه يې وانه خيسته او په لاسونو يې له ځان څخه اوبه وڅنډلې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3310